# د عرش سورے

پښتو



شيخ طريقت، امير اهلسنت، بانئ دعوت اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال
مُحمّد الیاس عطّار قادِري رَضَوي
دامت بركاتهم العالية

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دعا

ديني کتاب يا اسلامى سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ

اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چې لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالب غم مدینہ بقیع ومغفرت

د رسالے نوم: د عرش سورے

اول ځل: ..............................................

تعداد: ......................

**مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته**

**کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ**

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلې وي نو مَكْتَبَةُالْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# د عرش سورے

شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دامت برکاتهم العاليه دا رِساله "عرش کا سایہ" په اردو ژبه کښې ليکلي ده.

مجلِسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اوموميئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه **مجلِس** تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

**پيشکش:**

**مجلِسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي**


**برائے رابطہ:**

**عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران**

**پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان**

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** 🖃 translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

دا مضمون ”د نيکۍ دعوت“ کتاب نه اخستے شوے دے

# د عرش سورے

دعائے عطار! يارَبَّ الْمُصطَفیٰ! څوک چې دا رساله ”د عرش سورے“ اولولي يا ئې واوري، هغه ته د قيامت په سخته ګرمۍ کښې د عرش سورے نصيب کړې او د خپلې رضا زيرے ور عطا کړې. اٰمِين بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شريف فضيلت

د الله پاک د آخرى نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: د قيامت په ورځ به د الله پاک د عرش د سورې نه سِوا بل سورے نه وي، درې کسان به د الله پاک د عرش په سورې کښې وي. عرض اوکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا به کوم خلق وي؟ اوئې فرمائيل: وړومبے هغه کس څوک چې زما د اُمَّتي پريشاني لرې کړي، دويم سنت ژوندے کوونکے، او دريم په ما باندې کثرت سره درود شريف لوستونکے.
(بدور السافرة، 131، حديث: 366)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دين قُطب اعظم

حُجَّةُ الْاِسلام حضرت سيِّدُنا امام ابو حامد محمد بن محمد غزالى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د نيکۍ حکم کول او د بدۍ نه منع کول د دين قُطبِ اعظم دے، ( يعني داسې اهم رکن دے چې دې سره د دين ټول څيزونه وابسته دي) د هُم دې اَهم کار د پاره د الله پاک ټول انبيا کرام عَلَيْهِمُ الصلوٰةُ وَالسَّلَام راليږلي وو. (احياء العلوم، 2/377)

## د عرش سورے به ورته نصیب کیږی

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د مَحشر د میدان په خوفناك ماحول کښې چې په هغه ورځ به د عرشِ اِلٰهی د سوري نه علاوه بل يو سورے نه وي، په هغه ورځ به چې اللّٰه پاک خپلو کومو مُطِیع او فرمانبرداره بندګانو ته د عرشِ عظیم په سوري کښې ځائے او په جَنّتُ الفِردَوس کښې داخِله ورکوي په هغه خوش نصیبو کښې به د نیکۍ دعوت ورکوونکي او د بدو نه منع کوونکي اسلامي وروڼه او اسلامي خویندې هم شامِل وي. چنانچه اللّٰه پاک حضرت سَیِّدُنا مُوسٰی کَلِیمُ‌اللّٰه علیه‌السّلام ته وحِي اوفرمائیله چې چا د نیکۍ حُکم ورکړو او د بدۍ نه ئې منع اوکړه او خلق ئې زما د اِطاعت (یعني فرمانبردارئ) طرف ته را وبلَل، د قیامت په ورځ به زما د عرش په سوري کښې وي.

(حِلیَۃُ الاولیاء ج6 ص36 رقم7716)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## نمر به په پاؤ باندې يو مِيل کښې وي

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! چې کله د قیامت ورځ وي او نمر به پاؤ باندې يو میل رانښکته شوے وي او اور به وَرَوِي، د تندې د سختي نه به ژبې بهر راوَتلي وي، خلق به په خوَلو کښې ډوب وي نو **د عرش د سوري** د **اَهَمِّیَّت** به په صحیح معنو کښې اندازه په هغه ورځ لګي، د هغې طَلَب به په خپل زړه کښې پیدا کړئ، [سوچ اوکړئ] چې د اُوړي غرمه وي او تاسو په سور نمر کښې په يو هوار صحرا [بیابان] کښې بنپې ابله بنپې روان ئې، که په داسې حالت کښې څه چوپال یا څه بل د سوري ځائے اُووِینئ نو هغه وخت به تاسو څومره خوشحاله شئ د دې اندازه تاسو پخپله کولے شئ حالانکه د قیامت د ګرمۍ په مُقابَله کښې د دُنیاوي نمر هیڅ حیثیت نشته. لِهٰذا د قیامت په ورځ د اللّٰه پاک په رَحمت د عرش سورے حاصلولو د پاره نن په دُنیا کښې ډېر ډېر د نیکۍ دعوت عام کړئ او اللّٰه پاک نه د عرش د سوري سوال هم کوئ.

یاالٰہی گرمیٔ محشر سے جب بھڑکیں بدن دامنِ محبوب کی ٹھنڈی ہوا کا ساتھ ہو
یاالٰہی جب زَبانیں باہر آئیں پیاس سے صاحِبِ کوثر شہِ جُود وعطا کا ساتھ ہو
یاالٰہی سرد مہری پر ہو جب خورشیدِ حَشر
سیِّدِ بے سایہ کے ظلِّ لِوا کا ساتھ ہو

(حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رَضا! زما د آقا اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہِ علیہ د مُناجات د درېِ وارو شعرونو په نمبر نمبر خلاصه اُوګورئ: ﴿1﴾ اے زما الله پاکه! چې کله ورځ د قيامت شي او د حشر د ميدان په سخته ګرمئ د خلقو وجودونه سوځي هغه وخت مونږه غُلامانِ مُصطفٰی صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم ته د خوږ محبوب صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم د کرم والا لمَني يخه هوا نصيب کړې ﴿2﴾ اے زما خوږه پروردګاره! د قيامت د خوفناکې ګرمئ او سختې تندې نه چې کله ژبې د ازغي په شان وچې شي او بهر ته را اُوځي! په داسې زړه وِيستونکي ماحول کښې د صاحِبِ جُود و سخاوت، د مالِكِ کوثر او مالِكِ جنّت صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم ملګرتيا رانصيب کړې، کاش! کاش! کاش! مونږه تندې وهلو ته د صاحِبِ کوثر صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم په ښکلو ښکلو مبارکو لاسو د کوثر ډك جامونه رانصيب شي. ﴿3﴾ اے رَبِّ کريم! د قيامت په سُور تود ميدان کښې چې کله نمر ډير زيات تود وي، په داسې سخت نمر کښې چې دِماغ به خوټکيږي، زمونږه د هغه سَيِّد او سردار صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم د چا به چې په نمر کښې په زمکه باندې سورے نه پريوتلو، د هغوئي د عظيمُ الشّانه بيراغ سورے رانصيب کړې.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د نيکئ او بدئ پيشوا

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! کوم کس د خپل قائِد، پيشوا [دِيني مشر] او لِيډر [د هر قِسم يو دِلې مشر] جوړولو نه مخکښې د آخِرت د ګټې او نُقصان مُتَعَلِّق ښه سوچ

او فِکر کول پکار دي، خوك خوش نصيبه چې يو الله والا نيك بنده خپل پيشوا [دِيني مشر] جوړ كړي د هغه په خبرو عمل اوكړي هغه به د قيامت په ورځ هم د هغه سره وي او خوك بدنصيبه چې د دُنيا په تماشو كښې مَست شي او د دولت او نوم كټلو د لالچ په سبب د بد پيشوا (ليډر) په جال كښې اونخښلي او په دُنيا كښې د هغه خبرې مني نو په **محشر** كښې به هم د هغه سره وي. مونږ ټولو ته د قيامت د رُسوائي نه ويريدل پكار دي. د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ترجمے والا پاكِيزه قُرآن ''كنزُالايمان مَع خَزَائِنُ الْعِرفان'' صفحه 539 سيپاره 15 سُوْرَۃ بني إسرآءِيْل آيت 71 كښې **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى اِرشاد فرمائي:

يَوۡمَ نَدۡعُوۡا كُلَّ اُنَاسٍۭ بِاِمَامِهِمۡ ۚ

مفهوم ترجمهٔ كنزُالايمان : په كومه ورځ به چې مونږه هره ډله د هغې د اِمام [مشر] سره رابلو.

**صَدرُ الاَفاضِل** حضرتِ علّامه مولانا سَيِّد **محمَّد** نَعِيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دي آيتِ كريمه نه لاندي فرمائي (د هغه اِمام سره به ئې رابلو) د چا به چې هغه په دُنيا كښې اِتّباع كوله (يعني خبره منله). حضرتِ اِبنِ عبّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي: د دي نه د هرې زمانے هغه امام (يعني مَشر) مُراد دے د چا په دعوت چې خلق په دُنيا كښې روان وي، كه هغه د حق دعوت وركړے وي او كه د باطِل. مطلب دا دے چې هر قوم به د خپل سردار سره جمع كيږي د چا په حُكم چې په دُنيا كښې روان وو او هغوئي به د هغه په نوم رابلَل شي چې د فلانكي **مُتَّبِعِين** (يعني منونكي)

(تفسير خزائنُ العِرفان، پ15، بنی اسرائيل، تحت الآية:71)

# د نیکئ د اِمام ښهٔ انجام

کومو خوش نصیبو ته چې په دُنیا کښې د تبلِیغ و اِرشاد او د نیکئ د دعوت د کارونو مَنصَب او مقام نصیب شوے وي او هغوئي په ډیر اخلاص په ښه شان خپله ذِمّه واري سر ته رَسَولي وي، د هغوئي او د هغوئي سره د مرسته کوونکو مُخلِصینو به په آخِرت کښې مزې وي. په دې باره کښې یو ایمان تازه کوونکے رِوایت واورئ او خوشحاله شئ. چنانچه حضرت سَیِّدُنا کعب رضی اللہ عنہ فرمائي: د نیکئ اِمام به په قیامت کښې راوستے شي او هغه ته به اُووئیل شي چې د خپل پروردګار جلّ جلالہ په بارګاه کښې حاضِر شه نو هغه به حاضِر شي او د مینځ نه به حِجابات [یعني پردے] لرې شي، هغه ته به جنّت ته د تللو حُکم اوشي، هغه چې جنّت ته لاړ شي نو هلته به خپل منزِل (ځائے) او د نیکئ په کارونو کښې د مرسته کوونکو خپلو دوستانو منازِل (یعني ځائیونه) اُووِیني، هغه ته به اُووئیل شي چې دا د فلانکي منزِل دے او دا د فلانکي، نو هغه به په جنّت کښې هغه ټول خیزونه اُووِیني څه چې پخپله د هغه د پاره او د هغه د دوستانو د پاره تیّار وي او خپل مقام به د هغه ټولو دوستانو د مقام نه غوره اومومي. بیا به هغه ته د جَنَّت د حُلّو (جامو) نه یوه حُلّه واغوستے شي او هغه ته به د جَنَّت د تاجونو نه یو **تاج** په سر کړے شي او د هغه **مخ به په ځلیدو** شي تر دې چې د **سپوږمئ** په شان به شي، چې خوك هم هغه وِیني نو وائي به: **یا الله!** دا زمونږ ملګرے کړې تر دې چې هغه به د خپلو هغه دوستانو خوا ته راشي چا به چې په خیر او نیکئ کښې د هغه مرسته کوله، هغوئي ته به وائي:! اے فلانکیه خوشحاله شه جَنَّت کښې الله پاک ستا د پاره داسې اِنعامونه تیّار کړي دي، هغوئي ته به دغسې خوشخبرئ اورو‌ي تر دې چې د هغه د روښانه مخ په شان به د هغه د دوستانو مخونه هم د خوشحالئ نه **په ځلیدو شي** او خلق به هغوئي د **ځلیدلو مخونو** په وجه پیژني.

(اَلبُدُورُ السافِرۃ فِی اُمورِ الآخِرۃِ ص 245)

پُر ضیاء کر میرا چہرہ حشر میں اے کبریا

شہ ضیاءالدین پیر باصفا کے واسطے

مخ مې کړې روښانه ته په حشر کښې اے کِبریا

په خاطر د شاه ضِیاءُ الدّین پیرِ با صفا

اٰمِین بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د کیسټ "یوې خبرې" مې په زړه داسې اثر وکړو چې...

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د "**دعوتِ اسلامي**" خوشبودار مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ، هم د دې مَدَني ماحول په بَرَکت بیشمیره اسلامي ورونړو او اسلامي خویندو د ګناهونو نه توبه اوکړه او د نیکئ د دعوت په خورولو کښې مصروفه شو، ستاسو د ترغیب او د حِرص [یعني شوق] راپیدا کولو د پاره تاسو ته یو مَدَني سپرلے اوروم، چنانچه د پنجاب (پاکستان) د ښار چِشتیاں شریف د یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ده: لمونځونه قضا کول، کِیره خرَئیل، مور او پلار تنګول وغیره وغیره ګناهونه زما په ژوند کښې شامِل وو، د سندرو او سازونو اوریدلو خو ما د لیونتوب د حده پورې شوق لرلو، قِسماقِسم سندرې به زما په موبائِل فون او کمپیوټر کښې هر وخت موجودې وې، د اِنټرنیټ د غلط استعمال په ګناه کښې هم اَخته ووم د جِینز (JEANS) نه علاوه به ما د بلې کپړے پتلون نه اغوستو تر دې چې یو ځل زما واله صاحِب د اختر په موقع جامے [قمیص پرتوګ] اوګنډلو نو ما هغه د اغوستلو نه انکار اوکړو او د نَفس په خواهِش مې پینټ شرټ واخستلو او د اختر د خوشحالئ په موقع مې واغوستلو. د فیشن د شوق په وجه د عمامے او کُرتے پاجامے [یعني د سُنت مطابق لباس] په باره کښې ما کله سوچ هم نه وو کړے. زما د اِصلاح سبب څه داسې اوشو چې زمونږ جُمات ته چې کوم نوې **اِمام صاحِب** تشریف راوړے دے، زمونږه خوش قسمتي ده چې هغوئي د تبلِیغِ قرآن و سُنّت د غیر سیاسي تحریك دعوتِ

اسلامي مَدَني ماحول سره تَعَلُّق لري. يوه ورځ هغوئي په ما ”اِنفِرادي كوشش“ اوكړو او په هفته واره د سُنَّتو ډكه اِجتِماع كښې د شِركَت دعوت ئې راكړو، د هغوئي د اِنفِرادي كوشش په وجه ما يو دوه ځله هفته واره د سُنَّتو ډكه اِجتِماع كښې شِركت اوكړو. يوه ورځ هغوئي زما والِد صاحِب ته د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارے **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** نه جاري شوے د سُنّتو ډك بيان كيسټ ”مُردے کی بے بسی [د مړي بے وسي]“ په تُحفه كښې وركړو.د الله پاک په رَحمت يوه شپه ما ته هغه كيسټ د اوريدو سعادت نصيب شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د هغه بيان په بَرَكت زما د زړه دُنيا بدله شوه، خاص طور دې ”خبرې“: ”اِنسان به د مرګ نه پس د تورو تيارو قبر ته كُوز كړے شي، كه ګاډے ئې لرلو نو هغه به هم په ګيراج كښې ولاړ پاتې شي.“ زما په زړه كښې مَدَني اِنقِلاب راپورته كړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه!ما سمدستي د خپلو ټولو تيرو شوو ګناهونو نه توبه اوكړه، خپل موبائِل او كمپيوټر مې هم د سندرو د سپيره والي نه پاك كړو او د ”دعوتِ اسلامي“ د **مَدَني ماحول** سره مې تړون اوكړو. دې ”مَدَني ماحول“ زه بالكل بدل كړم ما د خوږ خوږ آقا، مَكّي مَدَني مُصطفٰیصَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مَحَبّت نښه ګِيره مُباركه پرېښوده او د عِمامے تاج مې په سر كړو او د سُنّتو مطابِق مَدَني لِباس مې واغوستلو. اَلْحَمْدُلِلّٰه!د دې ليك د وخته پورې زه د يونيورسټئ په هاسټل كښې د دعوتِ اسلامي د شُعبۂ تعليم د ذِمّه دار په حيثيت د مَدَني كارونو د خورولو په كوششونو كښې مصروف يم.

یقینا مقدّر کا وہ ہے سکندر جسے خیر سے مل گیا مَدَنی ماحول
یہاں سنّتیں سیکھنے کو ملیں گی دلائے گا خوفِ خدا مَدَنی ماحول
گنہگار و آؤ سیہ کار و آؤ
گُنہ تم سے دیگا چُھڑا مَدَنی ماحول

يقيناً د مُقَدّر هغه دے سِكندر په خير چې نصيب شو د چا مَدَني ماحول
دلته به زده كړې تاسو سُنّتونه پيدا به كړي په تا كښې خوفِ خُدا مَدَني ماحول
ګنهګارو را شئ، بدكارو راشئ لرې به له تاسو كړي ګناه مَدَني ماحول

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د جُمات اِمام ګویا د علاقې بې تاجه بادشاه وي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو اولیده! د جُمات د اِمام اسلامي ورور اِنفِرادي کوشش یو ماډرن او فیشني ځلمے د سُنّتو نمونه جوړ کړو! عام طور د جُماتونو اِمام صاحِبان د عامو اسلامي ورونړو په نِسبَت زیات اثر لري. خاص طور خوش اَخلاقه او اَشنائي ساتونکے د جُمات اِمام اوګڼړئ چې د هغه علاقې "بې تاجه بادشاه" وي، خلق د هغه ډیر زیات احترام کوي او د هغه خبره په خوشحالئ مني او په سر سترګو ئې قبلوي. د ائِمۀ کرامو [یعني اِمامانو صاحِبانو] په خِدمت کښې زما "مَدَني عرض" دے چې هغوئي دِ صرف د جُمعَةُ المُبارَك بیان کافي نه ګڼړي، د موقعے په مُناسَبَت هره ورځ د فیضانِ سُنَّت د درس ترکیب جوړوئ، او د درس ورکونکي مُعلِّم د حوصله زیاتولو د پاره په درس کښې شِرکت هم کوئ، "اِنفِرادي کوشش" ښه ډیر زیات کوئ، د نیکئ د دعوت په علاقائي دوره کښې پخپله ضرور شرکت کوئ، هره میاشت کم از کم درې ورځو د پاره د عاشِقانِ رسول په مَدَني قافِله کښې د سُنّتو ډك سفر سَعادَت حاصِلوئ، واقعي که امام صاحب پخپله سفر کوي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم د هغوئي مُقتدیان به هم په آسانئ د مَدَني قافِلو مُسافر جوړ شي. بَهرحال هر اِمام صاحِب ته د خپل دې منصب او قدر "جائِز فائِده" اخستو په ذریعه په خپله علاقه کښې د مَدَني کارونو خورَوَل او د سُنَّتو مَدَني ماحول جوړول پکار دي او د ځان د پاره د آخِرت د ثواب ښه ډیره ذخیره جمع کول پکار دي. د خپلو مُقتدیانو سره په زیاته آزادئ ساتلو خپل رُعب او عِزَّت مه خرابوئ او د فالتو خبرو نه ځان ساتئ، د دې په ځائے هغوئي ته د سُنَّتو ډك خوشبوداره مَدَني ګلونه وړاندې کولو کښې د دوارو جهانو خیرونه دي. په دې باره کښې یو د نصیحت نه ډك حِکایت واورئ چنانچه

## د ووه 7 د پاره ووه 7 پوره دي

د **حضرت** سَیِّدُنا حاتِمِ اَصم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خِدمت کښې یو کس حاضر شو او اوئې وئیل ما ته نصیحت اوکړئ. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورته اوفرمائیل: ﴿1﴾ که ته رفيق (یعني ملګرے) غواړې نو [د] اللّٰه پاک (یاد) ستا ملګرے دے ﴿2﴾ که د لارې ملګرے غواړې نو"کِراماًکاتِبین" (یعني اعمال لیکونکي فرښتے) ستا د پاره کافي دي. ﴿3﴾ که عِبرت غواړې نو"د دُنیا فاني کیدل" د عِبرَت د پاره کافي دي ﴿4﴾که مُونِس[سکون ورکونکے]اوغم لرې کونکے غواړې نوقرآنِ کریم کافي دے ﴿5﴾ که شَغل (یعني کار) غواړې نو"عِبادت" کافي دے ﴿6﴾ که واعِظ(یعني نصیحت کوونکے) غواړې نو "مرګ" کافي دے. دا شپږ مَدَني ګلونه عنایت کولونه پس ئې په ووم **نمبر** ارشاد اُوفرمائیلو: ﴿7﴾ دا خبرې که ستا نه وي خوښې نو دوزخ ستا د پاره کافي دے.

(تَذْکِرَةُالاولیاء الجزء الاوّل ص224)

د اللّٰه پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په پته د بے حیائي کوونکي غلط فهمي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو ولیدہ! زمونږه بُزُرګانِ دِین به د **نیکئ د دعوت** یوه موقع هم نه ضائِع کوله، که هغوئي نه به چا نصیحت غوښتلو نو هغه ته به ئې آخِرت کښې په کار راتلونکي "مَدَني ګلونه" وړاندې کول. واقعي که په سفر او حَضَر [یعني کور] او هر ځائے کښې د اللّٰه پاک یاد ملګرے وي او هر وخت دا احساس وي چې "اللّٰه پاک **ما وِیني**." ځنګه چې په دیرشمه سیپاره سُورَةُالعَلَق آیت 14 کښې ارشاد کیږي:

اَلَمْ یَعْلَمْ بِاَنَّ اللّٰهَ یَرٰی ﴿۱۴﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: آیا پوهه نه شو چې **اللّٰه** (پاک)وِیني.

نو بيا به اِنسان د ګُناهونو په مُعامَله کښې يَريږي او اِحتياط به کوي او ظاهِراً او خُفيةً [يعني په ښکاره او په پټه] به د الله پاک و رسُول صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نافرمانئ نه ځان ساتي. څوك چې په خپل ناقِص خيال کښې په پټه ګناه کوي هغوئي ته دا خبره په خپل ذِهن کښې ساتل پکار دي چې کوم ګناهونه دوئي پټ ګنړي هغه ټولې بدئ او بے حيائي ليکونکي فرښتے ته معلومې دي او ليکي ئې هم! که يو بنده ته د دې کَمَا حَقُّهٗ [يعني څنګه چې حق دے هغسې] احساس اوشي نو هغه به دومره شرمِنده او پښيمانه شي چې زړه به ئې غواړي چې اوس په دې ساعت زمکه اوچوي او ما رانښکاږي! پاره 26 سُورۃ قٓ آيت 18 کښې ارشاد کيږي:

مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ﴿۱۸﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالايمان: يوه خبره هم هغه د خُلې نه نه اوباسي چې ورسره يو څوکئ کوونکے تيار ناست نه وي.

(پ26، ق: 18)

پاره 30 سُوْرَۃُ الْاِنْفِطَار آيت 10 تا 12 کښې دی:

وَ اِنَّ عَلَيْكُمْ لَحٰفِظِيْنَ ﴿۱۰﴾ كِرَامًا كَاتِبِيْنَ ﴿۱۱﴾ يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۱۲﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالايمان: او بيشکه په تاسو بعضې څارونکي دي قدرمند ليکونکي، پوهيږي په هغې چې ئې تاسو کوئ.

مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: معلومه شوه چې اَعمال نامے ليکونکي فرښتے زمونږ د پټو او ښکاره عملونو عِلم لري نو بيا

د ټولو فرښتو بلکه د ټولو مخلوقاتو سردار، مکّی مَدَنی تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته به د خپلو غلامانو د زړونو حالات ولې نه وي ښکاره! اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په بارګاهِ رِسالت کښې عرض کوي:

سرِ عرش پر ہے تری گزر، دلِ فرش پر ہے تری نظر
ملکوت وملک میں کوئی شے، نہیں وہ جو تجھ پہ عیاں نہیں

(حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رضا: **یا رَسُولَ الله** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د عرش د پاسه او په فرش یعني په زمکه کښې دننه هر یو څیز تاسو ته ښکاره دے. دُنیا جهان کښې یو څیز هم داسې نشته چې تاسو صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ښکاره نه وي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## فرښته د سفر ملګرے جوړولو والا عمل

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! چا ته چې د دُنیا د بے وفا کیدو احساس وي، هر وخت د مرګ تَصَوُّر لري، تِلاوت او دُرود د هغه مَشغله وي، په ذِکر و دُرود کښې مَصروف وي نو په دواړو جهانو کښې به د هغه بیړئ پورپوځي. که مُقِیم وي او که مسافر هر یو ته پکار دي چې د فضولو خبرو په ځائے خپل وخت په **ذِکر و دُرود** او د سُنَّتو ډکو ښکلو ښکلو خبرو کښې تیروي. خصوصاً د سفر مُتَعَلِّق یو **مَدَني ګل** قبول کړئ. چنانچه د شَهنشاهِ مدینه **مُحَمَّدِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان عالي شان دے: څوك چې د سفر په دوران کښې د **الله پاك** طرف ته توجُّه ساتي او د هغه په ذِکر کښې مشغول اوسي، **الله پاك** د هغه د پاره یوه فرښته مُحافِظ (یعني حِفاظت کوونکے) مُقرّر کړي او څوك چې په بے هُوده [بے فائِده او په ګناه مشتملو] شِعر و شاعِرئ او فُضولو خبرو کښې مصروف اوسي نو **الله پاك** په هغه پسې یو شیطان وریسے کړي.
(اَلْمُعْجَمُ الکَبِیر ج17 ص324 حدیث895)

سرورِ دیں لیجے اپنے ناتُوانوں کی خبر
نفس و شیطاں سیِّدا کب تک دباتے جائیں گے
(حدائقِ بخشش شریف)

اوکړئ مدد د کمزوري اُمّت اے د دِين سرداره
تر څو به وي اَخته په شر د نفس او د شيطان کښې

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د نيکۍ دعوت ورکول هم جِهاد دے

د حضرتِ سَیِّدُنا عَلِـيُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه رِوايت دے چې د حُضورِ اَکرم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد دے: د جِهاد خلور قِسمونه دي: ﴿1﴾ د نيکۍ حُکم ورکول او ﴿2﴾ د بدۍ نه منع کول او ﴿3﴾ د صبر په مقام کښې رښتيا وئيل ﴿4﴾او د فاسقانو سره بُغض ساتل. چا چې د نيکۍ حُکم ورکړو هغه د مُؤمِنانو لاسونه مضبوط کړل او چا چې د بدو نه منع اوکړه هغه د فاسِقانو پوزه په خاورو خړه کړه.
(حِلْيَةُ الْاَوْلِياء ج5 ص11 حديث6130)

## د فاسِق د ”فِسق“ نه نفرت پکار دے

حضرت سَيِّدُنا عبدُالعزيز دَبَّاغ رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي:د يو فاسِق مسلمان نه داسې نفرت کول نه دي پکار چې د هغه د ذات نه نفرت پيدا شي، خو د هغه غَلَط عَمَل او ناجائِزه کار بد ګڼړل پکار دي ځکه چې د هغه دا ګناهونه چې د نَفرت باعِث دي عارضي دي خو د هغه په زړه کښې موجود **ايمان** مُستَقِل دے. هغه پخپله يو مومِن دے او دا داسې کارونه دي چې دا **محبّت** لازِمَوي لِهٰذا د دې پاکو خصلتونو په وجه د هغه د ذات سره **محبّت** پکار دے او د هغه د بدو کارونو او ګناهونو نه نفرت کول پکار دي. (ابريز ص478 مُلَخَّصاً)

## د فاسِق صُحبَت سخت نقصان ورکوونکے دے

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! دا ياد ساتئ چې د فاسِق د فِسق نه نفرت کول پکار دي، د دې معنٰى دا بالکل نه ده چې د فاسِق صُحبت دِ کَنې اِختيار کړے شي. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَكتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د 504 صفحو کتاب "غيبت کی تباه کارياں" صفحه 172 کښې دي: د بدو صحبتونو نه ځان ساتل بے حده ضروري دي ګنې آخِرت تباه کيدے شي. زما آقا **اعلٰحضرت، اِمامِ اَهلِسُنّت،** مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: "شريعتِ مُطَهَّره په لـمانځه کښې داسې يو ذِکر هم نه دے شامِل کړے چې په هغې کښې "صِرف په ژبه" الفاظ ادا کړے شي او څه معنٰى ئې مراد نه وي." (فتاوٰی رَضَويّه ج29 ص567) نو د (اعلٰى حضرت د دې فرمان په رڼړا کښې) تاسو ته د ياد ګيرنې د پاره عرض دے چې د **وِترو په** لـمانځه کښې خو به تاسو **دُعائے قُنوت** لولئ چې په هغې کښې دا هم دي: وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ ط يعني "(يا الله پاکه) مونږه جُدا کوو او پريږدو هغه خوك چې ستا نافرماني کوي." که د نن نه مخکښې درته معنٰى معلومه نه وه نو اوس معلومه شوه لِهٰذا د خپل ربّ سره هره ورځ کړې دا وعده اوس پوره کړئ او لمُونځ نه کوونکو، او په کنزلو، بدګمانو، تُهمتونو، غِيبتونو، **چُغلئ** او قِساقِسم ګناهونو کښې اخته فاسِقانو فاجِرانو د **محفلونو** او صُحبتونو نه توبه اوکړئ. او قُرآنِ کريم هم د داسې خلقو د صُحبت نه منع فرمائي: څنګه چې په پاره 7 سُوْرَةُ الْاَنْعام آيت 68 کښې ارشاد شوے دے:

وَ اِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۶۸﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالايمان: او چې کله درنه شيطان هير کړي، نو د راياديدو نه پس د ظالِمَانو سره مه کښېنه.

تفسِيراتِ اَحمدِيه کښې د دې آيتِ مبارکه نه لاندې ليك دي: دلته د ظالِمَانو نه کافِران، مُبتَدِعِين يعني ګُمراه او بد دِين او فاسِقان مُراد دي. (تفسِيراتِ اَحمَدِيه ص388)

"غيبت کی تباہ کاریاں" صفحه 173 کښې دي چې:

## د نيکۍ د دعوت ورکولو د پاره د فاسِقانو خوا ته تلل جائِز دي

کوم اسلامي ورور چې مُتّقي پرهيزګاره وي، هغه هم په يارۍ دوستۍ کښې نه بلکه صِرف د نيکۍ د دعوت د حَده پورې د نافرمانو او وران کارو خلقو خوا ته کښيناستے شي چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارے مَکتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ترجَمے والا پاکِيزه قُرآن "کنزُالاِيمان مَعَ خَزَائِنُ الْعِرفان" صفحه 260 سيپاره 7 سُوْرَةُ الاَنعَام آيت 69 کښې رَبُّ العِباد جلّ جلالهٗ اِرشاد فرمائي:

وَ مَا عَلَى الَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّ لٰكِنْ ذِكْرٰى لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿٦٩﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او په پرهيزګارو باندې د هغوئي حِساب هيڅ هم نشته، خو نصيحت کول شايد چې هغوئي [د بدۍ نه] ځان وساتي.

حضرت صدرُ **الافاضِل** مولانا سَيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رحمۃ اللہ علیہ په "خَزائِنُ العِرفان" کښې د دې آيت لاندې ليکي: "د دې آيت نه معلومه شوه چې د وعظ او نصيحت او د حق د اِظهار د پاره د هغوئي خوا ته ناسته جائِز ده."

د امير اهل سنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د کتاب "د نيکۍ دعوت" مضمون دلته ختم شو. لاندې سوالونه د امير اهلسنت د ملفوظاتو نه اخستے شوي دي، او د موضوع په مناسبت دلته شامل کړے شوي دي.

## الله پاک ته بره والا وئيل څنګه دي؟

**سوال:** ”آيا داسې وئيلے شي چې ”الله پاک بره دے“؟

**جواب:** الله پاک د ځائے نه پاک دے ځکه داسې نه شي وئيلے چې الله پاک بره دے يا ښکته دے يا ښي اړخ ته دے يا ګڅ اړخ ته. (بهارِشریعت،1/19،حصه:1ماخوذاً) بعضې خلق وائي چې الله پاک په آسمان کښې اوسيږي او بعضې وائي چې په عرش باندې اوسيږي حالانکه د الله پاک د پاره هيڅ مکان يعني د اوسيدو يا قيام کولو يا حصاريدلو، دمې کولو ځائے داسې هيڅ معامله نشته [يعني الله پاک د دې ټولو معاملاتو نه پاک دے]. د الله پاک هيڅ بدن نشته او هغه د جسم او جسمانيت نه پاک دے. (درمختار،2/358ماخوذاً) دا وئيل چې الله پاک بره دے، دې ته عُلماؤ کفر ليکلے [يعني وئيلے] دے. (بحر الرائق،5/203) د الله پاک د ذات په حقله د داسې مسائلو نه د ځان خبرولو د پاره د دعوت اسلامي د مکتبةُ المَدينه کتاب ”کُفريه کلمات کے بارے میں سوال جواب“ اولولئ اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيْم ستاسو ايمان به تازه شي او تاسو ته به په سوونو نه، بلکه په زرګاؤ د داسې کفرياتو په باره کښې معلومات اوشي کوم چې نن صبا په خلقو کښې رائج دي. (ملفوظاتِ اميرِاہلِ سنّت،قسط:31،ص7)

## د کمان نه تير شوي دي تيريدونکي

**سوال:** تاسو فرمائيلي دي چې ” الله پاک ته بره والا، يا الله پاک په عرش دے“ دا نه شي وئيلے او مونږه اوريدلي دي چې د معراج په شپه سرورِ کائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عرش ته د الله پاک سره د ملاقات د پاره تشريف وړے وو او عرش بره دے نو د دې څه مطلب دے؟ (د سوشل ميډيا په ذريعه پوښتنه)

**جواب:** خوږ آقا ﷺ د اللّٰه پاک سره د ملاقات د پاره عرش ته تلے وو دا د عوامو خبره ده. دا خبره ټيك ده چې سرکار ﷺ عرش ته تلے وو خو د اللّٰه پاک ديدار ئې چرته اوکړلو. د دې ذکر نشته. اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِ سنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

خِرَد سے کہہ دو کہ سر جھکا لے گماں سے گُزرے گزرنے والے
پڑے ہیں یاں خود جہت کو لالے کسے بتائے کِدھر گئے تھے

(حدائقِ بخشش، ص235)

د شعر مطلب دا دے چې عقل ته اووايه چې اوس وسله اوغورزوه [يعني تسليم شه]، سوچ مه کوه ځکه چې تيريدونکي د خيال نه هم وَراءُ الورىٰ تير شوي دي ځکه چې دلته پخپله اړخونو ته هم پته نشته. نه بره نه ښکته، نه ښي اړخ ته نه ګڅ اړخ ته. دغه شان خوږ آقا ﷺ د خپل سر په سترګو د اللّٰه پاک ديدار اوکړلو. په څه شان ئې اوليدلو؟ يا ئې څنګه اوليدو؟ دا د سوچ خبرې نه دي بلکه د منلو خبرې دي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنّت، قسط:31، ص8)

**سوال:** د دې شعرونو وضاحت اوکړئ.

(د نګرانِ شورىٰ حاجى ابو حامد محمد عمران عطارى پوښتنه)

واسطہ پیارے کا ایسا ہو کہ جو سُنّی مرے
یوں نہ فرمائیں ترے شاہد کہ وہ فاجر گیا
عرش پر دُھومیں مچیں وہ مؤمن صالح ملا
فرش سے ماتم اُٹھے وہ طیب و طاہر گیا

(حدائقِ بخشش، ص53، 54)

**جواب:** د دې شعرونو وضاحت دا دے چې: "يا اللّٰه پاکه! د خپل خوږ حبيب ﷺ په وسيله! چې کله مونږ د دنيا نه لاړ شو چې ستا ګواهان دا اونه وائي چې نافرمانه د دنيا نه لاړلو، بلکه چې فرښتے خوشحالئ اوکړي چې يو نيک بنده زمونږ

خوا ته راغلے دے او دنيا والا افسوس اوکړي چې يو نيک بنده زمونږ نه جدا شولو. "دلته د شاهد نه يا خو د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم برکت والا ذات مراد دے، ځکه چې د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارک شاهد هم دے. ځنګه چې د قرآن کريم په يو آيت مبارک کښې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې القابونه شاهِد، مُبَشِّر او نذِير ذکر شوي دي.[1]

يا د شاهد نه مراد مومِنان دي. يعني زه چې کله مړ شم نو مسلمانان دا اونه وائي چې فاجر د دنيا نه لاړو. زما زيات رُجحان هم دې اړخ ته دے چې دلته مسلمانان مراد دي ځکه چې سرکارِ دوعالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو رحمت کوونکے او د خپلو غلامانو عيبونه پټوونکے دے. سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته خو الله پاک د دې خبرې علم هم ورکړے دے چې څوک فاجر دے او څوک متقي دے! (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنّت، قسط:246، ص8)

## د عرش سورے ورکوونکے عمل

**سوال:** يو داسې عمل اوښائې چې د هغې په وجه د عرش سورے ميلاؤ شي؟

**جواب:** په حديثونو مبارکو کښې قرضدارې ته د مهلت ورکولو يا د قرضے معاف کولو فضيلتونه بيان شوي دي. د الله پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان عالي شان دے: "څوک چې غريب [قرضداري] ته مهلت ورکړي يا د هغه قرض معاف کړي، الله پاک به هغه ته په هغه ورځ د خپل عرش په سوري کښې ځائے ورکوي په کومه ورځ چې به د عرش د سوري نه علاوه بل يو سورے هُم نه وي." (ترمذی، 3)

---

[1] ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا﴾ (پ22، الاحزاب:45) [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے د غيبو خبرونه ورکونکيه (نبي) بے شکه مونږ ته اوليږلې حاضر ناظر او زيرے ورکونکے او ويره اوروونکے.

/52،حديث:1310) يو بل روايت دے: ”چا چې غريب ته مهلت ورکړو يا ئې د هغه قرض معاف کړو هغه ته به الله پاک د خپل عرش په سوري کښې ځائے ورکړي.“

(مسند امام احمد،8/367،حديث:22622) (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنّت،قسط:248،ص2)

## ”عرشِ اعظم پہ رب“ والا شعر وئيل څنګه دي؟

**سوال:** دا شعر صحيح دے او که نه؟

عرشِ اعظم پہ رب سبز گنبد میں تم
میں مدینے سے لیکن بہُت دُور ہوں
کیوں کہوں میرا کوئی سہارا نہیں
یہ خلِش میرے دل کو گوارا نہیں

**جواب:** د دې شعر په وړومبو الفاظو عرشِ اعظم پہ رب [يعني په عرشِ اعظم باندې رب] کښې په خرګنده مَعَاذَالله په عرشِ اعظم د الله پاک مکان منلے شوے دے او د الله پاک د پاره مکان منل کُفرِ لُزومی دے. که چرې د دې شعر په اول کښې ”عرشِ اعظم کارب“ [يعني د عرشِ اعظم رب] اولوستلے شي نو بيا به شعر په شرعي لحاظ سره صحيح شي- (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب،ص242)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نيک او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائے کښې کېدونکې د **دعوتِ إسلامي** د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے إلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تېروئ ✿ د سُنَّتو د تربيَت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ✿ هره ورځ د "**فِكرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني إنعاماتو** رساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په ېکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي.**" إِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. إِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ






فيضانِ مدينه محلّه سوداگران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com